# دلوی اختر او قربانی احکام

**تالیف :**

مفتی أعظم پاکستان حضرت مولانا مفتی محمدؒ شفیع صاحب
دیوبندی رحمة الله علیه

**پښتو ژباړه :**

محمد أحمد الحقانی الأفغانی غفر الله له


به اهتمام
مولوی عصمت الله آخندزاده
**مکتبهٔ رحیمیه ، کاسی روډ ، کوئټه**
03222423258 :

# دلوی اختر او قربانی احکام

**درې (۳) بیلا بیلې رسالې**

بسم الله الرحمن الرحيم

فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ (الكوثر : ٢)

# ❶ دلوی اختر او قربانی احکام

مع رسالهٔ

# ❷ رفع التلاحی عن جلود الاضاحی


**تالیف :**

مفتی أعظم پاکستان حضرت مولانا مفتی محمّد شفیع صاحب دیوبندی رحمة الله علیه


سره دیوې بلې رسالې

# ❸ مسائل چرم قربانی


**تالیف:**

حضرت مولانا مفتی محمد رفیع عثمانی صاحب (حفظه الله) صدر دار العلوم کراچی

**پښتو ژباړه :**

محمد أحمد الحقانی الأفغانی غفر الله له



به اهتمام

مولوی عصمت الله احمدزاده

مکتبهٔ رحیمیه ، کاسی روډ ، کوئټه

03222423258 :

ټول حقوق
محفوظ دي

©All Rights Reserved

**لومړی چاپ**

**۱۴۲۹ شوال \ اکتوبر 2008**

| Maktabah Rahimiyah | مکتبة رحیمیة |
| --- | --- |
| Publishing Organization | **خپروندیه ټولنه** |

Kasi Road, Quetta, Pakistan . Mob: 03222423258 : کاسي روډ ، کوئټه ، پاکستان ، ګرځنده تلیفون شمیره

AL-ILM Computers, Quetta, Mob:03218016371 : العلم کمپیوټرز، کوئټه پاکستان، ګرځنده تلیفون شمیره

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# دلوی اختر او قرباني احکام

[ الحمد لله وکفٰی وسلام علٰی عباده الذین اصطفٰی . أمّا بعد : ]

## دذی الحجی دعشری فضائل:

محمد (ﷺ) فرمایلی دی چی دالله دعبادت لپاره دذی الحجی له عشری نه بله کومه ښه زمانه نسته. پدی کی یوه ورځ روژه دیوه کال له روژی سره برابره ده او یوه شپه عبادت کول دقدر دشپی دعبادت په برابر دی. (ترمذی وابن ماجه).
دقرانکریم په سورة والفجر کی الله تعالی په لسو شپو قسم یاد کړیدی. هغه لس شپی دجمهورو په وینا همدغه دعشره ذی الحجی شپی دی. خصوصاً نهم تاریخ، یعنی دعرفی ورځ. او دعرفی اواختر ترمینځ شپه هم په دغو ټولو ورځو کی خاص فضیلت لری، عرفه یعنی دذی الحجی په نهمه روژه نیول دتیر سوی یوکال اوراتلونکی یوکال لپاره کفاره ده. او داختر په شپه په عبادت کی مشغول کیدل دډیر زیات فضیلت او ثواب موجب دی.

## دتشریق تکبیر:

((الله اکبر، الله اکبر لا اله الا الله والله اکبر الله اکبر ولله الحمده)) دعرفی په ورځ یعنی دنهم تاریخ له سهار نه ددیارلسمی ورځی ترمازیګر پوری له هرلمونځ څخه وروسته په اوچت آواز سره یوځل داتکبیر ویل واجب دی. فتوی پردی ده چی په

جماعت سره لمونځ کوونکي اوځان ته لمونځ کوونکی دواړه په دی کی برابردي، همدغسی پرسړی اوښځو دواړو باندی واجب دی. البته ښځه دی په اوچت اواز تکبیر نه وایی بلکی په کراره دی ووایی (شامی).

## خبرتیا

دغه تکبیرات باید په متوسط اواز سره وویل سی ډیرخلك پدی کی غفلت کوی اوبالکل یی نه لولی اویایی ډیر په کراره لولی ددی اصلاح ضروری ده.

## داختر لمونځ

دلوی اختر په ورځ دغه کارونه مسنون دی. سهار وختی له خوبه پاڅیدل، غسل اومسواك وهل. پاك اوصفا لباس اغوستل، خوشبو لګول، داختر له لمونځ نه وړاندی څه نه خوړل. عیدګاه ته دتللو په وخت په اوچت اواز سره تکبیرونه ویل.
داختر لمونځ دوه رکعته دی. خوله نورو لمونځونو سره یی صرف دومره فرق دی چی پدی کی په هر رکعت کی دننه دری تکبیرونه زیات دی.
په لومړی رکعت کی دسبحٰنك اللهم له ویلو نه وروسته اوله قرائت نه مخکي، او په دویم رکعت کی له قرائت نه وروسته په دغو زیاتو تکبیرونو کی ترغوږونو پوری دلاسونو رسول ضروری دی. په لومړی رکعت کی دی له دوه تکبیرونو نه وروسته لاسونه ځوړند کړی له دریم تکبیر نه وروسته دی لاسونه وتړی. په دویم رکعت کی دی له دری واړه تکبیرونونه وروسته لاسونه ځوړند ونیسی په څلورم تکبیر کی دی رکوع ته لاړشی. داختر دلمونځ نه وروسته دخطبی اوریدل سنت دی.

## قربانی

قربانی یو مهم عبادت دی اوداسلام له شعائرو څخه دی. دجاهلیت په زمانه کی هم دا عبادت ګڼل کیدی مګر دبتانو په نوم به یی قربانی کوی. تراوسه پوری په نورو مذاهبو کی قربانی درسم په توګه ادا کیږی یا دبتانو په نوم اویاهم دمسیح علیه السلام په نوم قربانی کوی. الله جل جلاله په انا اعطیناك سورة کی محمد ﷺ ته حکم ورکړیدی چی څرنګه لمونځ له الله نه علاوه دبل چا لپاره نسی کیدی

قرباني هم دالله په نوم کول پکار دی د: فصل لربك وانحر همدغه مفهوم دی. په یو بل ایت کی همدغه مفهوم په بل عنوان سره داسی بیان کړیدی:
(( ان صلاتی وسنکی ومحیای ومماتی لله رب العلمین) تفسیر ابن کثیر.
محمد (ﷺ) له هجرت نه وروسته لس کاله په مدینه منوره کی قیام وکړ. هر کال به یی قرباني کوله. لدینه معلومه سوه چی قرباني یوازی دمکی معظمی لپاره مخصوص نه ده بلکی پرهر چاباندی په هر ښار کی دشرائطو له تحقق نه وروسته واجب دی (ترمذی) محمد (ﷺ) به مسلمانانو ته دقربانی تاکید کوی. لهذا د جمهورو مسلمانانو په نزد قرباني واجب ده. (شامي)

## قربانی پر چا واجب ده ؟

قرباني په هر هغه مسلمان عاقل، تابع او مقیم باندی واجب ده له چاسره چی دوه پنځوس نیمی تولی سپین زر یا ددی دقیمت هومره مال دهغه له اصل حاجت نه زیات موجود وی یامال ورسره وی برابره خبره ده چی که هغه سره زر وی یا دسروزرو ګینه، یا دتجارت مال ورسره وی اویا د هغه دکور له ضروری سامان نه زیات مال یا زیات کورونه. (شامی)
**مسئله**: پرچاچی قرباني واجب نه وی او هغه دقربانی په نیت کوم ځاروی واخلی نو پرهغه قرباني واجب سوه. (شامی)

## دقربانی ورځ

دقربانی عبادت صرف له درو ورځوسره مخصوص دی په نورو ورځو کی قرباني نه کیږی دقرباني ورځ دذی الحجی لسم، یولسم، او دولسم تاریخ دی. په دغو ورځو کی قرباني کولی سی البته په لومړی ورځ کی قرباني کول افضل دی.

**دقربانی په بدله کی صدقه او خیرات**: که دقرباني ورځی تیری سوی اود ناخبرئ یا غفلت اویا دبل کوم عذر له کبله قرباني ونکړی سوه نو دقربانی قیمت پر فقراو او مسکینانو باندی صدقه کول واجب دی. لیکن د قرباني په دریو ورځو کی دڅاوری دقیمت په صدقه کولو سره داواجب نه داکیږی بلکی دهمیشه لپاره ګنهګار پاته کیږی ځکه چی قرباني یو مستقل عبادت دی. لکه چی دلمونځ په

لوستلو سره روژه او دروژې په نیولو سره لمونځ نه ادا کیږي همدغه راز دزکات په ورکولو سره حج نه ادا کیږي. همدغسې د صدقې په خیرات کولو سره قرباني نه ادا کیږي. درسول الله (ﷺ) ارشادات او تعامل او بیا داصحابو تعامل پردې باندې گواه دي.

## دقربانۍ وخت

په کومو قریو او ښارونو کې چې دجمعې او اختر لمونځونه جائز دي هلته داختر دلمونځ نه وړاندې قرباني کول جائز نه دي. که چا دلمونځ نه وړاندې قرباني وکړه نو پرهغه دوباره قرباني لازمه ده. البته په کوچنیو کلیو او بانډو کې چې هلته دجمعې او اختر لمونځونه نه کیږي نودا خلك دلسم تاریخ صبح صادق نه وروسته قرباني کولې سي. همدغسې که چیرې دکوم عذر له کبله داختر لمونځ په لومړي ورځ ادا نکړې سي نو داختر لمونځ دوخت تیریدو نه وروسته قرباني صحیح ده. (درمختار)

**مسئله**: قرباني دشپې په وخت کې هم جائز ده مگر بهتر نه ده (شامي).

## دقربانۍ څاروي

سِرلي، پسه او مږ دیوه سړي له طرف نه قرباني کیدی سي، غوا، غوایي، میښه، څنډا، او اوښ کې دا ووه کسانو دطرف نه یو بس دي. پدې شرط چې دټولو نیت دثواب لپاره وي دچا نیت یوازې دغوښې خوړلو لپاره نه وي.

**مسئله**: وزگړي او بزه باید پوره دیوه کال وي که مږ اوپسه دومره چاغ اوڅورب وي چې دیوکال دعمر په اندازه ښکاره سي نو هغه هم جائز دي، غوا، غوائي، میښه، او څنډا باید ددوو کلو وي او داوښ عمر پنځه کاله ضروري دي. له دغو عمرونو څخه دکم عمر څاوري قرباني نه صحیح کیږي.

**مسئله**: که چیرې د څارویو خرڅونکې دڅاروي پوره عمر وښیي او دظاهري حالت نه دهغه دخبرو تکذیب نه کیږي نو دهغه پر خبرو اعتماد جائزدي.

**مسئله**: دکوم څاروي ښکرونه چې پیدائشي نه وي یا له مینځ نه مات سوي وي دهغه قرباني جائز دي. خوکه ښکرونه یې له بیخ نه مات سوي وي دهغه اثر پر دماغ باندې کیدل لازم دي نو دهغه قرباني صحیح نه ده (شامي).

**مسئله**: دخصي وزګړی قرباني نه یوازې چې جائز بلکې افضل دی. (شامي).
**مسئله**: د ړوند، کوڼ او ګوډ څاروی قرباني صحیح نه ده، همدغسې دداسې ناروغ اولاغر څاروی چې دقرباني ترځای پورې پخپلو پښو نسي تللی دهغه قرباني هم نه کیږي. (شامي)
**مسئله**: دکوم څاروی چې له دریمې حصې نه کمه حصه غوږ یا لکۍ پریکړل سوي وي دهغه قرباني نه کیږي. (شامي)
**مسئله**: دکوم څاروی غاښونه چې بالکل نه وي یا زیاتره یې نه وي دهغه قرباني جائز نه ده (شامي، درمختار) همدغه راز دکوم څاروی غوږونه چې په پیدائشي ډول بالکل نه وي دهغه قرباني هم صحیح نه ده.
**مسئله**: که چا څاروی بالکل صحیح او سالم اخستی و. بیا داسې عیب پکښې پیدا سو چې قرباني وربانذې نه کیده نوکه خریدار غني او صاحب نصاب نه دی نو دهغه لپاره ددغه عیب دار څاروی قرباني جائز ده. اوکه چیرې داشخص غني او دنصاب مالك دی نوپر هغه لازم دی چې ددغه څاروی په بدل کې بل څاروی قرباني کړي. (درمختار وغیره)

## دقرباني مسنونه طریقه

دقرباني خپل مال پخپل لاس ذبح کول افضل دي. که چیرته پخپله ذبح نسي کولی نوپه بل چا باندې یې ذبح کولی سی مګر دذبح په وخت هلته دده حاضري او موجودګي افضل دي.
**مسئله**: دقرباني نیت صرف په زړه کې کول کافي دی. په ژبه ویل ضروري نه دي البته د ذبح په وخت بسم الله الله اکبر ویل ضروري دي.
داسنت دی چې کله څاروی دذبح لپاره مخ په قبله څملوی نودا آیت شریف دی ولولي:
(( إِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَٱلاَرْضَ حَنِيْفاً وَّمَا اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ * اِنَّ صَلاَتِيْ وَنُسُكِيْ وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ للهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ * ))
اوله ذبح نه وروسته دی دغه دعاء ولولي:

(( اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْهُ مِنِّیْ كَمَا تَقَبَّلْتُ مِنْ حَبِیْبِكَ مُحَمَّدٍ وَّخَلِیْلِكَ اِبْرَاهِیْمَ عَلَیْهِمَا السَّلاَمُ )).

## دقربانی آداب:

دا افضل دی چی دقربانی ځاروی له څو ورځی وړا ندی نه وساتل سی.

**مسئله**: دقربانی دځاروی نه شیدی لوشل یا دهغه وړئ او ویښتان پرې کول جائز ندی اوکه چا داکار وکړ نو هغه دی ددی په عوض کی صدقه ورکړی اودا ورباندی واجب دی. (بدائع).

**مسئله**: دقربانی نه وړاندی دی چاړه ښه تیره کړی اویو ځاروی دی دبل ځاروی په وړاندی حلال نکړی. له حلالولو نه وروسته دی دځرمن ایستلو او دغوښی په ټوټې کولو کی له تلوار نه کار نه اخلی بلکی دومره صبر دی وکړی چی ځاروی ښه یخ سی.

## متفرق مسائل

داختر له لمونځ نه وړاندی قربانی کول جائز نه دی. لیکن په کوم ښار کی چی په مختلفو ځایونو کی داختر لمونځ کیږی نودښار په هرځای کی چی داختر لمونځ وسی نو په ټول ښارکی قربانی جائز.کیږی. (بدائع)

**مسئله**: که چیری دقربانی دځاروی نه دذبح څخه مخکی بچی پیداسو یا دذبحی په وخت له ګیډی نه یی ژوندی بچی ووتی نو هغه دی هم ذبح کړل سی. (بدائع)

پرکوم شخص باندی چی قربانی واجب وی که هغه دقربانی ځاروی واخستی اوبیا ورڅخه ورك سو یا چا ورڅخه غلا کړی اویا مړ سو. نو پرهغه واجب دی چی دهغه پرځای بله قربانی وکړی اوکه له دویمی قربانی نه وروسته دقربانی لومړی ځاروی پیداسی نو غوره داده چی هغه دی هم قربانی کړی. لیکن دهغه قربانی پرده باندی واجب نده که چیری یوسړی غریب وی او قربانی ورباندی واجب نه وی مګر په نفلی توګه هغه دقربانی لپاره ځاروی واخستی مګر هغه مړ سو اویا ورك سو نو پرهغه دویمه قربانی واجب نه ده. خوکه دغه ورك سوی ځاروی دقربانی په ورځو کی پیداسو نو دهغه قربانی کول واجب دی. اوکه

دقریانی له ورځو نه وروسته پیدا سی نو دغه څاروی یا ددی قیمت صدقه کول واجب دی (بدائع).

## دقربانی غوښه

۱. که په یو څاروی کی څو تنان شریك وی نو دهغه غوښه دی په ترازو سره تقسیم کړی سی نه په اندازی او اټکل سره.

۲. غوره داده چی دقربانی غوښه دری حصی سی یوه حصه دی دخپل اهل او عیال لپاره وساتی. یوه حصه دی پرخپلوانو او عزیزانو باندی تقسیم کړی. اویوه حصه دی پرفقراو او مساکینو وویشی. اودکوم سړی عیال چی زیات وی نو هغه ټوله غوښه هم دخپل عیال لپاره ساتلی سی.

۳. دقربانی دغوښی خرڅول حرام دی.

۴. ذبح کوونکی ته دقربانی له غوښی اوڅرمن نه اجرت او مزدوری ورکول جائز ندی. بلکی لدینه علاوه دی اجرت ورکړی سی.

## دقربانی څرمن

۱. دقربانی څرمن پخپل استعمال کی راوړل لکه جای نماز جوړول یا ډولچه او بل څه ترینه جوړ کړی سی جائز دی. خوکه دایی خرڅ کړی نو دهغه قیمت دخپل ځان لپاره نسی خرج کولی بلکی صدقه کول یی واجب دی. اودصدقی له نیت نه پرته دقربانی څرمن خرڅول هم جائز ندی (عالمګیری).

۲. دیو خدمت په عوض کی دقربانی څرمن ورکول جائز ندی لهذا دمسجد مؤذن یا امام ته دهغه دامامت په اجرت کی ورکول جائز نه دی.

۳. ددینی مدارسو غریب طالبان ددغو څرمنو بهترین مستحق دی ځکه چی پدی کی دصدقی ثواب هم دی اوددین خدمت هم مګر مدرسینو او ملازمینو ته لدینه معاش او تنخواه ورکول جائز ندی.

والله الموفق والمعین.

بنده محمد شفیع عفا الله عنه کراچی

**رفـع التـلاحـی**

**عـــن**

**جلود الاضاحی**

# دقربانی دڅرمنو احکام

## بسم اللهِ الرَّحمٰن الرَّحیم.

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم.

**سوال**:

څه وائی ددین علماء او دمتین شریعت مفتیان پدی مسئله کی چی دقربانی دڅرمن په متعلق ځینی بریلی علماء وائی چی قربانی کوونکی سړی یا پخپله څرمن اویا دثواب په نیت څرمن خرڅه کړی او دمدرسی مهتمم یادمسجد متولی ته یې ورکړی اوبیا هغوی داڅرمن خرڅه کړی اوددی قیمت په مدرسه یا مسجد کی دتنخوا په توګه چاته ورکوی یا له تنخوا نه بغیر یې مصرف کړی جائزدی ایا دا مسئله صحیح ده ؟ که صحیح نه وی نو مدلل ځواب راکړئ ترڅو پرمخالف باندی حجت قائم سی اوقوم له ګمراهی نه محفوظ پاتی سی. بینوا تؤجروا فقط.

**ځواب**:

**(۱) (( فی العالمگیریة یتصدق بجلدها ویعمل مه نحو غربال وجراب (الی قوله) ولا یبیعه بالدارهم لینفق الدراهم علی نفسه وعیاله واللحم بمنزلة الجلد فی الصحیح حتی لا یبیعه بما لا ینتفع به الا بعد استهلاکه ولو باعها بالدارهم لیتصدق بها جاز لانه قربة کالتصدق کذا فی التبیین وهکذا فی الهدایه والکافی (عالمگیری کتاب الاضحیة باب ۷ ص ۳۱۳ ج ۵).**

**(۲) وفی الهدایة لوباع الجلد او اللحم بالدارهم او بما لا ینتفع به الا بعد استهلاکه**

تصدق بثمنه لان القربة انتقلت الى بدله. ص ٤٣٤ ج ٢ وفى حواشى الهداية من الكافى: انتقلت القربة اليه فوجب التصدق.

(٣) وفى الدر المختار فان بيع اللحم والجلد به اى بمستهلک اوبدراهم تصدق بثمنه ومفاده صحة البيع مع الكراهة واقره الشامى ص ٢٢٨ ج ٥.

(٤) وفى البدائع لايحل بيع جلدها وشحمها ولحمها (الى قوله) من الدراهم والدنانير والماكولات والمشروبات ولا ان يعطى اجر الجزار والذابح منها لما روى عن رسول الله ﷺ انه قال من باع جلد اضحية فلا اضحية له (الى قوله) فان باع شيئا من ذلک نفذ بيعه عند ابى حنيفة و محمد (رح) وعند ابى يوسف لاينفذ لما ذكرنا فيما قبل الذبح ويتصدق بثمنه لان القربة ذهبت عنه فيتصدق به ولانه استفاده بسبب محظور هو البيع لا يخلو عن خبث فكان سبليه التصدق

(بدائع ص ٨١ ج ٥).

(٥) وفى الخلاصة و لاباس ببيعه بالدراهم ليتصدقها وليس له ان يبيعه بالدراهم لينفقها على نفسه ولو فعل ذلک يتصدق بثمنها. خلاصة الفتاوى ص ٣٢٢ ج ٤).

(٦) وفى البحر وياكل من لحم الاضحية ويؤكل ويدخر (الى قوله) وجاز ان يأكل منه وهو غنى فلا ولى ان يجوز له اطعام غيره وان كان غنيا انتهى. ثم قال ولا يبيعه بالدراهم لينفق الدراهم على نفسه وعياله (الى قوله) ولو باعها بالدراهم ليتصدقها جاز لانه قربة كالتصدق بالجلود واللحم وقوله عليه السلام من باع جلد اضحية فلا اضحية له يفيد كراهية البيع واما البيع فجائز لوجود الملک والقدرة على التسليم .

(بحر ص ١٧٨ ج ٨).

* * *

له پورتنيو عبارتونو څخه دقربانى دڅرمن او غوښى په اړه دغه احکام ثابت سول:

(الف) ترڅو پورى چى غوښه او څرمن موجود وى نوپدى کى قربانى کوونکى ته

دری ډوله اختیار شرعاً حاصل دی.
(۱) پخپله د وخوری او استعمال دی کړی.
(۲) په نورو غني دوستانو باندی خوړل اواستعمالول یی.
(۳) په فقراو او مساکینو باندی صدقه کول لکه چی دبحر له شپږم لمبر عبارت ځخه معلوم سوه، همدغه راز په قرآنی آیت کی منصوص دی: فکلوا منها واطعموا الباس الفقیر .
(ب) که چیری دقربانی غوښه یاڅرمن (دمختار قول په مطابق) دنقدو پیسو په عوض یادداسی ځیز په عوض کی خرڅ کړی چی له هغه نه ګټه پورته کول دهغه داصل دپاك کیدو په صورت کی ممکن نه وی لکه دخوراك ښباك ځیزونه نو پدی صورت کی صرف دریم صورت ټاکل کیږی یعنی صدقه کول یی واجبیږی پخپله خوړل اویا غنیانو ته ورکول یی جائز نه دی برابره خبره ده چی دصدقی په نیت یی خرڅ کړی وی یاپخپله دخوراك ښباك لپاره په هر حال دهغه صدقه کول واجب دی لکه چی په مذکوره عبارتونو کی ددی تصریح موجوده ده بالخصوص په پنځم عبارت اودبحر شپږ نمبر عبارت کی داپه وضاحت سره مذکور دی.
(ج) داهم معلوم سوه چی دقربانی دغوښی یا دقربانی دڅرمن خرڅول پدی شرط چی نیت یی دصدقی لپاره وی نو جائز دی اوکه دخپل خوراك ښباك لپاره یی خرڅ کوی وی نو ګناه ده خو بیع یی صحیح ده لکه چی په هدایه او بدایه کی ددی تصریح موجوده ده.
پاته سو داشك چی که چیری دقربانی دغوښی او څرمن خرڅول ګناه ده نو بیع یی ځنګه صحیح کیږی داهسی عامیانه شك او شبه ده کوم سړی چی له حنفی فقه سره څه مناسبت لری هغه داسی شبه نسی کولی. ځکه چی په حنفی فقه کی سلګونه مثالونه اونظائر ددی لپاره موجود دی چی دفعل دناجائز کیدو باوجود عقد یی صحیح کیږی لکه چی دجمعی له اذان نه وروسته بیع اوشراء شرعاً ناجائز او ګناه دی مګر که چا داکار وکړ دګناه باوجود بیع یی صحیح او نافذه ده. او مبیع دده په ملیکت کی راځی، لدینه علاوه نور سلګونه مثالونه په فقه کی موجود دی. داسی شك هغه څوك کولی سی چی یاخو بالکل له فقه نه ناخبره وی اویا ترینه منکر وی لنډه دا چی که چیری دخپل استعمال په نیت یی خرڅ کړی نو دګناه باوجود بیع یی صحیح کیږی اودهغه دقیمت صدقه کول په دواړو

صورتونو کي واجب دی لکه چی دخلاصی اوبحر لـه ۳ نمبر عبارت څخه معلوم سوه.
او ددی تفصیل له کبله دفقهاو دعبارتونو اود بیع دممانعت دحدیثونو ترمینځ تعارض هم رفع سو. ځکه چی حدیث دهغه چا لپاره ممانعت کړیدی چی دخپل خوراك او څښاك لپاره یی خرڅوی او څوك چی یې پرفقیرانو باندی دصدقی په خاطر خرڅوی هغه پدی کی داخل نه دی.
کله چی له پورتنی عبارت څخه دا واضحه سوه چی دقربانی دڅرمن له خرڅولو نه وروسته دهغه دقیمت صدقه کول واجب دی. برابره خبره ده چی دصدقی کولو په نیت یی خرڅ کړی وی. اوکه دخپل ذاتی استعمال لپاره. اودا هم واضح سوه چی دابه صرف پرفقراو او مسکینانو باندی مصرفولی سی نه په اغنیاو. لکه چی په خلاصه کی راغلی دی:
(( وفی مجموع النوازل قوله علیه الصلوة والسلام لا تحل الصدقة لغنی ولا فقیر بنی هاشم محمول علی الصدقة الواجبة (الی قوله) اما اذا اطلق لفظ الصدقة فهی صدقة واجبة (خلاصة الفتاوی ص ۲٤٥ ج۱ ) وفی رد المحتار وهو (یعنی مصرف الزکاة) مصرف ایضا لصدقة الفطر والکفارة والنذر وغیر ذلک من الصدقات الواجبة کما فی القهسانی. (شامی ص ٦۳ ج ۲)
له پورتنی لیکنی څخه معلوم سوه چی که چیری دقربانی څرمن خرڅه کړل سی نو دهغه د قیمت صدقه کول واجب ګرځی او دابه یوازی فقرا او مسکینانو ته ورکول کیږی نه غنیانو ته ځکه چی دصدقی حقیقت دادی چی یو مسکین ته له څه عوض نه پرته ورکړل سی. که په تنخواګانو کی ورکړل سوه نودا دهغه مزدوری او معاوضه سوه اوکه غنی ته ورکړل سوه نو هغه په حقیقت کی هبه سو اګر چی لفظاً ورته صدقه وویل سی.
خوکه غوښه او څرمن پخپله په کورکی وخوړل سی اویا استعمال کړل سی اویا کوم غنی سړی ته چی ورکول یې شریعت جائز کړیدی هغه هم پدی حیثیت سره چی دحدیث په نص سره دا دالله تعالی له طرف نه دبنده ګانو لپاره میلمستیا ده او ښکاره خبره ده چی میلمنو ته دخوړلو څکلو اجازه وی نه وربانـدی دخرڅولو. همدغه خبره په بدائع کی په لاندینیو الفاظو را غلی ده:

(( ولانها من ضيافة الله تعالى عز شانه اللتى اضاف بها عباده وليس للضيف ان يبيع من طعام الضيافة شيئاً ، بدائع ص ۸۱ ج ۵ ))

اوپه بریلوی فتوی کی چی څومره عبارتونه پیش کړل سویدی له هغو نه په یولفظ کی هم ددی ثبوت نه ترلاسه کیږی چی دقربانی څرمن له خرڅولو نه وروسته هم اغنیاو ته ورکول جائز دی بلکی دهغو له ټولو عبارتونو څخه صرف همدا معلومیږی چی دقریانی غوښه او څرمن بعینه غنیانو ته هم ورکول جائز دی اوپدی کی هیڅوك ورسره اختلاف نه لری. اود ابی داود حدیث: فکلوا وادخروا واتجروا کی که چیری (اتجروا) بتَاءِ الْمُشَدَّدَةِ روایت هم ومنل سی نو زیات نه زیات لدینه دخرڅولو اجازه ثابتیږی، ییا پدی کی دقیمت حکم ندی بیان سوی.
ثانیاً دواتجروا معنی هم علامه ابن الاثیر رحمه الله په نهایه کی صدقه ورکول بیان کړیدی. ولفظه وحدیث الاضاحی کلوا وادخروا وائتجروا ای تصدقوا الطالبین الاجر. همدغه راز دحدیث بل روایت دهمدغی معنی تائید کوی چی په مسلم کی دعائشه (رضی الله عنها) په روایت سره مذکور دی:
(کلوا وادخروا وتصدقوا) تخریج هدایه ص ۲۷۸ ج ۲. لدینه معلومه سوه چی دابوداود په حدیث کی صحیح روایت وائتجروا په همزی سره دی.

## دځواب خلاصه او لنډیز

دځواب خلاصه داده چی دقربانی څرمن له خرڅولو نه وړاندی ته هم پخپله استعمالولی سی او اغنیاو ته یې هم په هدیه کی ورکولی سی اوپه فقراو او مسکینانو باندی هم صدقه کولی سی. خو که په پیسو یی خرڅه کړی وی که څه هم هغه یی په هر نیت خرڅه کړی وی دهغه صدقه کول واجب دی او دا به صرف فقرا او مسکینانو ته ورکوی. اغنیاو ته ورکول یا ملازمینو او مدرسینو ته په تنخواګانو کی ورکول جائز ندی. وا لله سبحانه وتعالی اعلم

کتبه
احقر محمد شفیع غفرله
خادم دار الافتاء دارالعلوم دیوبند ۱۳۵۰ هـ

بسم الله الرحمٰن الرحیم

# دقربانی دخرمنی مسائل

**مؤلفه** :

**حضرت مولانا مفتی محمد رفیع عثمانی صاحب، صدر دار العلوم کراچی**

**الحمد لله وکفٰی وسلام علٰی عباده الذین اصطفٰی.**

کله چې دقربانی څرمن څرڅه نسی نو شریعت قربانی کوونکی ته په دې کی څو اختیاره ورکړیدی، لیکن په څرڅولو سره یې په اکثرو صورتونو کی دقیمت صدقه کول واجب ګرځی، په بعضو صورتونو کی نه واجبیږی، دلته ددې ټولو مسائلو ضروری تفصیل بیانیږی.

## دپوست احکام

۱. دقربانی پوست دخپل ځان او اهل او عیال په استعمال کی راوړل جائز دی، مثلاً جائی نماز، دکتابو جلد، مشکیزه ، غړکه، سترخوان، جرابی، بوټونه او نور هر شی ورځخه جوړولی او استعمالولی سی، بې له کراهته جائز دی.
(هدایه ودُرّ مختار)
لیکن ددې شیانو په کرایه ورکول جائز نه دی، که یې چیری په کرایه ورکړی نو کمه کرایه چی په بدل کی ورکول سی دهغې صدقه کول واجب دی.
(شامی وعالمګیری)
۲. داهم جائز دی چی پوست یا دهغه څخه جوړ سوی شی یو چاته په هبه کی (بې له معاوضې) ورکړی، هر چاته چی یې ورکړی برابره خبره ده که هغه سید وی،

مالدار وی، یا خپل مور اوپلار ته یې ورکړی، یایې خپل اهل اوعیال تـه ورکړی، یایې یو بیګانه یا قریب ته ورکړی، کافر وی اوکه مسلمان، بې لـه عوضـه یـې هر چاته ورکول جائز دی.

(هدایه ، عالمګیری ، امداد الفتاوی)

۳. فقرآء او مساکینتو ته یې هم په خیرات کی ورکولی سی، مګر دا مستحب او ښه خبره ده، واجب نه دی.

(بحر ، عالمګیری)

۴. دقربانی پوست، غوښې، وازګه، وړی، دلبند، اونور ، یعنی دقربانی دحیوان هر یو جزء هیڅ چاته هم په عوض کی ورکول جائز نه دی، که یې چیری ورکړی نو ددې دقیمت صدقه کول واجب دی.

(هدایه ، عالمګیری ، امداد الفتاوی)

۵. دقربانی دحیوان ځل، رسۍ، اوتار کم چی پـه غـاړه کـی وی، هغـه هـم یـو چاتـه دخدمت پـه عـوض او بدلـه کـی ورکـول جـائز نـه دی، ددې شـیانو خیـرات کـول مستحب دی.

(شامی، عالمګیری، هدایه وعزیز الفتاوی)

دقربانی هر شی قصاب یا نورو ته هم دهغه پـه مزدوری کـی ورکـول جـائز نـه دی، دهغه مزدوری جلا ورکول پکار دی.

(هدایه ، دُرّ مختار)

امام او مؤذِّن ته یې هم دحقّ الخدمت په طور ورکول جآئز نه دی، دحق الخدمت او معاوضې څخه بغیر یې هرچاته ورکولی سی، امام او مؤذِّن ته یې هم ورکـولی سی.

## دپوست دقیمت احکام

۲. دقربانی پوست یا دهغه څخه دجوړ سوی شی پـه خرڅولـو کـی دا تفصیل دی چی که یې چیری هغه دروپیـو پـه بدلـه کـی خرڅ کـی نـو دهغـه پیسـو صـدقه کـول واجب دی، دارنګه که یې چیری دیو بل داسی شی په بدله کی خرڅ کـی چـی هغـه باقی پاته کیږی اوپه استعمال کی نه راځی، یعنـی چـی ددې پوست پـه بدلـه کـی

دنه اخیستلو په صورت کی دهغه څخه فائده نسی اخیستی، مثلا دخوراك او چینباك شیان، تیل ، پټرول، رنګ ، روغن او داسی نور شیان، نو کله چی یې د پوست په بدله کی دا شیان رانیول نو ددې شیانو صدقه کول هم واجب دی، دا د فقرآؤ او مسکینانو حق دی، اوپه خپله یې مصرف کول جائز نه دی.

(هدایه، بدائع، امداد الفتاوی)

ددې شیانو په بدله کی دقربانی پوست په دې نیت خرڅول چی هغه په خپل استعمال کی راولی مکروه هم دی، دصدقه کولو په نیت سره یې په خرڅولو کی مضائقه نسته، لیکن په هر نیت سره چی یې خرڅ کړی بیع نافذه او جاری کیږی، او ددې شیانو صدقه کول په هر صورت کی واجب دی.

(بحر، درمختار، عالمګیری)

اوکه چیری دقربانی پوست، یا ددې څخه جوړ سوی شی دیو داسی شی په بدله کی خرڅ کړی کم چی باقی پاته کیږی اوپه خپل استعمال کی یې راولی یعنی چی دپوست دخرڅولو بغیر دهغه څخه فائده حاصلیږی مثلاً کپړې، لوښی، میز، چوکۍ، کتاب، قلم اونور، نو ددې شیانو صدقه واجبه نه ده، بلکه ددې هم هغه حکم دی کم چی مخکی دپوست په بیان کی تیر سو، چی په خپله یې په خپل کار استعمالولی سی، بل چاته هبه (په بخښنه، بې له عوضه) ورکولی سی، او خیرات کول ټول جائز دی.

(هدایه، بدائع، درمختار، امداد الفتاوی)

بیا که چیری دا شیان په روپو، یا دخوراك او چینباك، او دخرڅیدونکو شیانو په بدله کی خرڅ کړی، نو ددې په بدله کی دحاصلو سوو شیانو دقیمت صدقه کول واجب دی.

(امداد الفتاوی ج **۳** ص **۵۷۳**)

# مصرف

۷. مخکی، او وروسته چی په کمو کمو مسائلو کی دصدقه کولو واجب کیدل بیان سویدی هغه صدقه صرف هغو مسکینانو ته ورکول کیږی کمو ته چی زکاة ورکول درست دی، کمو خلګو ته چی زکاة ورکول جائز نه دی، هغو ته دا صدقه هم نه ورکول کیږی، تفصیل یې مخ ته په مسائلو کی راروان دی.

(امداد الفتاوی ص **۵۳۲** و **۵۲۲** ج **۳**)

۸. دچا په ملکیت کی چی دومره مال وی چی په هغه سره زکاة یا قربانی واجب کیږی، هغه شرعاً مالداره دی، هغه ته دا صدقه ورکول جائز نه دی، او دچا سره چی تردې کم مال وی هغه شرعاً غریب او دزکاة مستحق دی، هغه ته دا صدقه هم ورکول کیږی.

(درمختار ص **۹۹** ج **۲** وبحر ص **۲۲۳** ج **۲**)

دنابالغو کوچنیانو پلار که چیری مالداروی نو هغو کوچنیانو ته هم نه ورکول کیږی، لیکن که چیری اولاد بالغ وی او مالدار نه وی نو هغه اولاد ته یې ورکول کیږی. دارنګه دمالداره سړی ښځه (ماندینه) که چیری مالداره نه وی نو هغې ته یې هم ورکولی سی. (هدایه)

که چیری دنابالغو کوچنیانو مور مالداره وی خو پلار یې مالدار نه وی، نو دده وبچیانو ته یې هم ورکولی سی. (درمختار)

۹. سیّد او بنو هاشم ته (یعنی کم خلګ چی دحضرت علی رضي الله عنه ، حضرت عباس رضي الله عنه ، حضرت جعفر رضي الله عنه ، حضرت عقیل رضي الله عنه ، یا دحضرت حارث رضي الله عنه بن عبد المطلب په اولاد کی وی) هغو ته دا صدقه ورکول جائز نه دی.

(شامی، هدایه، بحر، امداد الفتاوی)

۱۰. خپل مور، پلار، نکیه، انا، ورنیکه، دمور یا پلار انا، او دارنګه نور لوړ قریبان دکمو په اولاده کی چی دی په خپله دی، هغوی ته دا صدقه ورکول درست نه دی. (هدایه ج۱)

دارنګه اولاد، لمسی، لمسۍ، کړوسی، کړوسۍ، اونورو ته کم چی په خپله دده په اولاده کی دی، دا صدقه ورکول درست نه دی. (هدایه ج۱)

پاته نورو ټولو قریبانو ته یې ورکول جائز دی په دې شرط چی مستحق دزکاة وی، بلکه دوی ته یې په ورکولو کی دوه چنده ثواب دی، یو دخیرات او بل دخپلو قریبانو سره دښه سلوك کولو. (شامی ج۲)

۱۱. فتوی پردې باندی ده چی دا صدقه دی کافر ته نه ورکول کیږی.

(شامی ص ۹۲ ج ۲ ودر مختار ص ۱۰۸ ج ۲ وامداد المفتیین ص ۴۲۴)

۱۲. دچا دمزدوری یا دحق الخدمت په طور دا صدقه هم نسی ورکولی.

۱۳. دزکاة او دنورو واجبو صدقو په شان ددې صدقې دادائیگۍ دپاره هم دا شرط دی چې دا دې یو مسکین فقیر ته په مالکانه ډول ورکول سی، چې هغه ته په دې کی هر ډول اختیار وی، دده دمالکانه قبضې څخه بغیر دا صدقه هم نسی ادا کیدلی.

(دُرِّ مختار ص ۷۱۸ ج ۴ وامداد الفتاوٰی)

ځکه نو دا په مسجد، مدرسه، شفاخانه، څاهان، پُل، یا دارنگه په یوه بله عمومی اداره کی ددې خرڅول جائز نه دی، دارنگه دیوه لا وارثه چا په کفن او دفن، یا دمړی دطرف څخه په قرض ادا کولو کی هم ددې خرڅول نه صحیح کیږی، ځکه چې هلته دیو فقیر مالك جوړیدل، او دهغه په قبضې کی ورکول نه دی راغلی.

(کنز ، بحر ، هدایه)

په یوه داسی مدرسه یا انجمن وغیره کی ورکول چې هلته دا صدقه غریبانوته په مالکانه ډول نه ورکول کیږی هم نه دی صحیح، بلکه هوری دکارگرانو په تنخواگانو، یا تعمیر او مرمت او نورو انتظامی مصارفو کی لگول کیږی، او دا جائز نه دی.

البته که چیری په یوه اداره کی غریبو طالبانو ته یا نورو مسکینانو ته خوراك او نور شیان مفت ورکول کیږی، نو هلته دا صدقه ورکول جائز دی. لیکن دا به هغه وخت ادا کیږی چې کله بعینه دا روپی ، یا په دې سره رانیول سوی شیان مثلاً خوراك، کتابونه، کپړې، دوا او نور غریبانو ته په مالکانه ډول مفت ورکول سی.

(امداد الفتاوی)

# دتملیک حیله

البته که چیری پوست یو غریب یا مالدار ته، یا دپوست پیسې یو غریب ته، په مالکانه ډول په قبضه کی ورکول سی، او تصریح ورسره وکړی چې ته ددې په پوره ډول مالك یې، موږ ته په دې کی هیڅ اختیار نسته، بیا هغه په خپلی خوښی سره دا روپی په مسجد، مدرسه یا دیوې بلی عوامی ادارې دتعمیر، یا د هغه دکارگرانو په تنخواگانو اونوروکی دخپل طرف څخه ولگوی نو دا جائز دی.

مګر یاده دی وی چی د (حیلۀ تملیك) په نوم سره چی کمه لوبه په عام ډول سره ترسره کیږی دهغه په واسطه باندی دزکاة په شان دا صدقه هم نه ادا کیږی، ځکه چی عموماً چی چاته دا ورکول کیږی هغه په دې یقین لری چی ماته ددې مال هیڅ اختیار نسته، که یې دخپل ځان سره کښېږدم نو خلګ به می ملامت کړی، ددې بیری او شرم څخه هغه بیچاره دا روپی بیرته په چنده کی ورکوی، دا محضی په ژبه باندی ادا کول دی، په دې ډول باندی نه هغه مالك کیږی، نه دورکوونکی صدقه ادا کیږی، ددې حیلې په واسطه داروپی دمسجد یا مدرسې په تعمیر او انتظامی ضروریاتو کی خرڅ کول جائز نه دی.
(امداد الفتاوٰی ص ۵۳۴ ج ۳)

# متفرقی مسئلې

۱۴. بعضی خلګ دحیوان پوست دارنګه کاږی چی په هغه کی چاړه ووهل سی او سوری پکښی جوړ سی، یا پر پوست باندی غوښی پاته سی، چی ددې په وجه باندی پوست ته تاوان رسیږی، بعضی خلګ دپوست کښلو څخه وروسته دهغه حفاظت نه کوی، په بې کاره ځای کی په غورځولو سره بالکل بې قیمته یا یې قیمت کم سی، دا ټول کارونه په اسراف او (تبذیر) فضول خرچی کی داخل دی، چی ددې څخه ممانعت په قرآن کریم کی راغلی دی، ددې وجی څخه پوست په احتیاط سره ساتل دضائع کیدلو څخه یې محفوظ کول شرعاً ضروری دی.
۱۵. چاچی دقربانی پوست رانیوی، هغه ددې مالك سو، په دې هرقسم تصرف کولی سی، برابره خبره ده که یې دخپل ځان سره ایږدی، اوکه یې خرڅوی او قیمت یې په خپل کار راولی. (امداد الفتاوٰی)
۱۲. دقربانی په غوښی کی چی کم خلګ شریك وی، هغوی په څرمنه کی هم دخپلی خپلی حصی برابر شریکان دی، یوه شریك ته دخپل ځان سره دڅرمنی ایښوول دنورو شریکانو داجازې څخه پرته، یا یې یوچاته ورکول جائز نه دی.
۱۷. که چیری یو شریك دپاته شریکانو څخه کم چی دده سره په حصه کی شریکان دی، دهغوی دڅرمنی حصه په پیسو رانیسی نو اوس ټوله څرمن په خپل استعمال کی راوستل هیڅ پروا نه ورته لری، بیا که چیری دا شخص دا

ځرمن په پیسو، یا دخوراك او چیښاك دشیانو په بدل کی خرڅه کړی، نو دقیمت اومه ۷ حصه کمه چی دده خپله وه، دهغې صدقه کول ورباندی واجب دی، او پاته شپږ ۲ حصې کمی چی یې دشرکانو څخه رانیولی دی دهغو دقیمت صدقه کول ورباندی واجب نه دی، هغه په خپل خرڅ کی استعمالولی سی.

(امداد الفتاویٰ ج ۳ ص **۵۷۵**)

۱۸. په ذکر سوو ټولو مسائلو کی چی کم احکام دپوست دی، همدغه احکام دحیوان دذبح کولو څخه وروسته دهغه دوړیو او وریښتانو هم دی.

او که یې چیری وړی یا وریښتان خرڅ کړل، نوکم تفصیل چی دپوست دقیمت په اړوند بیان سو، هم دغه تفصیل دوړیو او وریښتانو دقیمت په اړوند هم دی.

مګر په یاد مو دی وی چی دقربانی دحیوان دذبح کولو څخه مخکی دهغه دوړیو یا وریښتانو پرې کول جائز نه دی، که یې چیری پرې کړی نو دهغه وړیو او وریښتانو یا دهغو دقیمت صدقه کول واجب دی، په خپل استعمال کی یې لګول جائز نه دی ([1])

(هدایه، عالمګیری، بحر، شامی)

والله أعلم

* * *

پای

([1]). او وروسته تر حلالولو یې بیا په خپل استعمال کی راوستلی سی لکه مخکی چی یې بیان تیر سو. از مترجمؒ

## دمضامینو فهرست


| صفحه | مضمون |
|---|---|
| | **لومړۍ رساله** |
| | **دلوی اختر او قربانۍ احکام** |
| ۵ | دذی الحجی دعشری فضائل |
| ۵ | دتشریق تکبیر |
| ۶ | خبرتیا |
| ۶ | داختر لمونځ |
| ۶ | قربانی |
| ۷ | قربانی پر چا واجب ده ؟ |
| ۷ | دقربانی ورځ |
| ۷ | دقربانی په بدله کی صدقه او خیرات |
| ۸ | دقربانی وخت |
| ۸ | دقربانی ځاروی |
| ۹ | دقربانی مسنونه طریقه |
| ۱۰ | دقربانی آداب |
| ۱۰ | متفرق مسائل |
| ۱۱ | دقربانی غوښه |
| ۱۱ | دقربانی څرمن |
| | **دوهمه رساله** |
| | **رفع التلاحی عن جلود الاضاحی** |
| ۱۲ | سوال او جواب |
| ۱۲ | دجواب خلاصه او لنډیز |

| مضمون | صفحه |
|---|---|
| **دريمه رساله** | |
| **دقرباني دڅرمنى مسائل** | |
| دپوست احكام | ۱۷ |
| دپوست دقيمت احكام | ۱۸ |
| مصرف | ۱۹ |
| دتمليك حيله | ۲۱ |
| متفرقي مسئلې | ۲۲ |


❋ ❋ ❋